# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۱۳قوس _سال ۱۴۰۱



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

د پکتیا مرکز گردیز کې د دوه کورنیو ترمنځ ۹۰ کلنه دښمني په دوستۍ بدله شوه ---------------------------------- ۱

بازگشت بیجاشده به محلات اصلی شان در بادغیس آغاز شد ------------------------------------------------------ ۲

له زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول ----------------------------------------------------------------- ۳

ورکشاپ دو روزه برای واحد های دومی وزارت امور مهاجرین در زون شرق به پایان رسید ----------------------- ٤

په (۱۹) ولایتونوکې شاوخوا (۸) زرو کورنیو سره مرستې وشوې --------------------------------------------- ۵

ترکیه کې د یو افغان ځوان وژنه د افغانانو غصه راپارولې ------------------------------------------------------ ۵

ترکیه ۸۲ مهاجر غیرقانونی را پس از برگشت اجباری توسط یونان نجات داد -------------------------------------- ۷

مېرخ: آلمان باید د رد شوو پناه غوښتونکو اخراج چټک کړي ---------------------------------------------------- ۸

نجات ۷٤۳ مهاجر غیرقانونی توسط فرماندهی گارد ساحلی ------------------------------------------------------ ۱۰

فرماندهی گارد ساحلی از نجات ۷٤۳ مهاجر غیرقانونی در یک هفته خبر داد ------------------------------------ ۱۰

# متن کامل اخبار

## د پکتیا مرکز ګردیز کې د دوه کورنیو ترمنځ ۹۰ کلنه دښمني په دوستۍ بدله شوه

دوزارت ویب سایت



د پکتیا ولایت مرکز ګردیز، زاهو قریه کې د ملایانو او بادوخیلو دوه کورنیو ترمنځ، چې له تېرو څه باندې ۹۰ کلونو
څخه یې د ځمکې پرسر شخړه وه او مړي هم پکې شوي وو، د قومي سپین ږیرو په منځګړیتوب پای ته ورسېده
په همدغه مناسبت جوړې شوې غونډې ته د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمان حقا نې وویل:
دښمنان زمونږ بې اتفاقۍ ته لمن وهي خو، زموږ قومونو ته الله استعداد ورکړی، چې هرڅه لوی لوی مسایل په جرګو او
مرکو حل کړي

نوموړي د قومي مشرانو دغه ګام د ستاینې وړ وباله او غوښتنه یې وکړه، چې ددې ترڅنګ د ولور په نوم پیسې
اخستل، ښځې په بدو کې ورکول او داسې نور ناوړه دودونه باید د قران او اسلامي شریعت له مخې له منځه یوسي
ښاغلي حقان ي له قومونو وغوښتل، چې د نورو د تبلیغاتو تر اثر لاندې رانشي او خپل ځوانان بچي پرې نږدي، چې په
ناقانونه ډول نورو هیوادونو ته ولاړ شي

نوموړي زیاته کړه، ځیني مافیا کړۍ خارج ته په تشویقولو سره غواړي د افغانانو سرمایه هم لوټ کړي او ځوانان هم د
مرګ خولې ته تیل وهي



وزارت امور مهاجرین و عودت کنندګان دمهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت
Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov

## بازگشت بیجاشده به محلات اصلی شان در بادغیس آغاز شد

ویب سایت وزارت




**به اساس گزارش آمریت امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت بادغیس بازگشت بیجا شده ها از قلعه نو مرکز ولایت بادغیس به محلات اصلی شان در ولسوالی مقر آن ولایت به تاریخ ۱۱ قوس آغاز شد.**

حسب هدایت مقام ولایت بادغیس بازگشت بیجا شدگان از هشت کمپ که در نواحی شهر قلعه نو قرار دارند به مناطق اصلی شان آغاز وتا کنون حدود ۵۰ پنحاه فامیل از کمپ شمال دریا که در مرکز قلعه نو قرار دارد به منطقه اصلی شان ولسوالی (مقر) قریه آبشاره عودت نموده اند.

قابل ذکر است که حدوداً چهار هزار فامیل از اثر نا امنی و خشکسالی سال های قبل به کمپ های مختلف در نوای شهر قلعه نو مسکن گزین اند.

## له زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت



نیمروز ولایت د ورېښمو پل له لارې د ایران څخه د لیندی په (۹) مه ( ۱۲۵۵ ) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.

د نیمروز ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو رئیس د معلوماتو له مخې (۱۶) کورنۍ، چې(۶۲) تنه کېږي او (۱۱۹۳) تنه یې مجردین ول، چې له ډلې یې (۱۳) کورنۍ، چې (۲۶) تنه نارینه، (۲۳) تنه ښځینه د )۱۰۱ (نورو مجردینو سره د مرستو په موخه د (IOM) نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول

## ورکشاپ دو روزه برای واحد های دومی وزارت امور مهاجرین در زون شرق به پایان رسید

ویب سایت وزارت



ورکشاپ دوروزه توضیحی، از طرف وزارت امور مهاجرین ودفتر مرکزی UNHCR ، برای کارمندان واحد های دومی آنوزارت، در زون شرق،(ننگر هار،کنر لغمان و نورستان) به تاریخ ۸ و۹ قوس در دفتر UNHCR در ولایت ننگرهاردایر شد.

در ورکشاپ یاد شده از جانب مولوی محمود الحق رییس پالیسی وپلان، سردار شیر زاد رییس رسیده گی به وضعیت بیجا شده ها، جمال حدران، آمر بودجه، محمد اجمل مدیر ارشد برنامه های وزارت وانجنیر محمد عابد همکار اجراییوی مقام وزارت، در رابطه به اهداف و فعالیتهای مشترک وزارت ودفتر UNHCR ، برای ریاستها ی زون و آمریتها، مسایل مالی و فعالیتهای مربوط به تفاهم نامه عقد شده میان دوطرف، ستراتیژی وزارت، پالیسی ها، تثبیت مستحقین و توزیع منظم مساعدت به آنها، مطابق به اصول اسلامی و بشر دوستانه، جلب مساعدتهای بیشتر، تطبیق پروژه های مختلف برای مستحقین و سایر موضوعات زیربط توضیح و به سوالات اشتراک کننده ها جواب داده شد.

در پایان روز دوم ورکشاپ، یکتن از نماینده های زون، در رابطه به موثریت و خوبی ها ی تفاهم نامه عقد شده میان دوطرف صحبت نموده و خواهان همکاریهای بیشتر شد.

همچنان نماینده دیگردر رابطه به حل مشکلات ایجاد شده با موسسات تطبیق کننده پروژه های دفتر ، UNHCR، نظریات خویش را ارایه و ورکشاپ با بیانات نماینده های وزارت امور مهاجرین، ریاست امور مهاجرین ننگرهار و دفتر UNHCR پایان یافت.

## په (۱۹) ولایتونوکې شاوخوا (۸) زرو کورنیو سره مرستې وشوې

دوزارت ویب سایت

یوشمېر مرستندویه بنسټونو له لورې په )۱۹ (ولایتونوکې د مهاجرینو چارو ریاستونو په همکارۍ د لینډۍ د (۵) څخه تر )۱۰ (مې ( ۸۹۶۹) کورنیو سره مرستې وشوې.

په یادو مرستوکې نغدي او خوراکي توکو شامل و،چې په بغلان، ارزګان، هرات، تخار، ننګرهار، نیمروز،پروان، بدخشان، بادغیس، کونړ، خوست، لوګر، میدان وردګ، جوزجان، کاپیسا، سمنګان، هلمند، لغمان او بلخ ولایت کې یادو کورنیو ته وویشل شوې.

## ترکیه کې د یو افغان ځوان وژنه د افغانانو غصه راپارولې

کدوال نیوز



۲۵ کلن افغان ځوان شفیق ستانکزی چې اروپا ته پر لار د ترکیې پولیسو د ناوړه چلند له امله یې خپل ژوند له لاسره ورکړی و په ټولنیزو شبکو کې یې د افغانانو غصه راپارولې.

ستانکزی چې د لوګر ولایت د محمداغي ولسوالۍ اوسېدونکی و شاوخوا یوه میاشت وړاندې په هیواد کې د شته ناخوالو له امله په قاچاقي لارو اروپا ته سفر پیل کړی و چې د نومبر میاشتې په ۱۱ مه، د ترکیې په وان ښار کې له یوې ودانۍ له غورځېدو وروسته خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د نوموړي خپلوان پژواک خبری آژانس ته ویلي چې هغه د ترکیې په وان ښار کې د امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې له یوې لوړپوړیزې ودانۍ غورځول شوی او ځای پر ځای مړ شوی و. سرچینه زیاته کړې چې د ستانکزي جسد د لیندۍ میاشتې په ۱۰ مه هیواد ته راولېږدول شو چې وروسته بیا د محمد اغې ولسوالۍ په مغل خیلو کلي کې خاورو ته وسپارل شو.

د نوموړي د مرګ له خبر وروسته ګڼو افغانانو په ټولنیزو شبکو کې په دې اړه خفګان څرګند کړی او له هیواد څخه د ځوانو کدرونو د فرار په اړه غبرګون ښودلی.

افغان خبریال رحیم ګال څاروان په خپله ټویټر پاڼه کې په دې اړه لیکلي: «شفیق ستانکزی حالاتو اړ کړی وو چې وطن پرېږدي. مهاجر شي. کله چې وطن کې دې ځای نه وي. تعلیم، تحصیل دا ټول یو دم ختم شي. د لوستي ځای شپونکی ونیسي. بسته ولس په کډه شي.نو اړ شي، پلې قاچاقي لار خپله کړي او په ډېره بې وسی کې له دنیا سترګې پټې کړي«.

شفیق ستانکزی حالاتو اړ کړی وو چې وطن پرېږدي. مهاجر شي. کله چې وطن کې دې ځای نه وي. تعلیم، تحصیل دا ټول یو دم ختم شي. د لوستي ځای شپونکی ونیسي. بسته ولس په کډه شي.نو اړ شي، پلې قاچاقي لار خپله کړي او په ډېره بې وسی کې له دنیا سترګې پټې کړي. دا د یوه افغان ځوان د ژوند داستان دی. pic.twitter.com/eWWK73clpj

**— Rahim Sarwan (@rgsarwan) November 26, 2022**

همدارنګه یو بل افغان خبریال کبیر حقمل هم د شفیق ستانکزي د مرګ په اړه د اندېښنې په څرګندولو لیکلي چې زرګونه افغانان له ورته برخلیک سره مخامخ دي.

حقمل په خپله ټویټرپاڼه کې لیکلي:« د ۲۰۲۱ کال تر سقوط وروسته مطلق اکثریت افغانانو په تېره بیا تحصیل کړو او د کار خلکو له راتلونکي هیلې وشکولې/له هیواده د وتو په تکل کې شول. دا لړۍ د ورځې په تېرېدو غځېږي اوخلک لا ډېر مایوسیت خپلوي. د ګران شفیق ستانکزي برخلیک خواشینوونکی دی، زرګونه ځوانان مو له ورته حال سره مخ دي«.

په ترکیه کې له افغان کډوالو سره د پولیسو د تاوتریخوالي د ا لومړۍ پېښه نه ده بلکه له دې وړاندې هم ګڼ شمیر افغان ځوانان په ترکیه کې وهل شوي، په زندانونو کې اچول شوي او زرګونه نور په زوره بیرته افغانستان ته استول شوي چې دا لړۍ دوام لري. د بشري حقونو د څار سازمانونو په دې اړه کلکه اندیښنه هم څرګنده کړې.

د یو بل خبر له مخې چې د اناتولي خبري آژانس خپور کړی، د ترکیې پولیس د پنجشنبې په ورځ هغه ۸۲ کډوال ژغورلي چې د یوناني پولیسو لخوا پر شا ټمبول شوي و. د سرچینې له مخې دغه کډوال په جلا جلا پیښو کې له یونان سره پولې ته نږدې ژغورل شوي دي

## ترکیه ۸۲ مهاجر غیرقانونی را پس از برگشت اجباری توسط یونان نجات داد

مهاجرنیوز




گارد ساحلی ترکیه اعلام کرد که ۸۲ مهاجر غیرقانونی را روز پنجشنبه پس از برگشت اجباری آنها توسط نیروهای دریایی یونان در دریای اژه نجات داد .

به گزارش رسانه آنادولو، نیروهای دریایی ترکیه پس از دریافت اطلاعات، مهاجران غیرقانونی را که در قایق های بادی سوار بودند، در سواحل منطقه داتچا نزدیک ولایت موگلا نجات دادند. این گروه مهاجران شامل ۲۷ تن بودند.

نیرو های ترکیه در یک عملیات جداگانه ۱۲ مهاجر غیرقانونی را پس از عقب راندن آنها توسط نیروهای یونانی به داخل آب های ترکیه در سواحل آیواجیک، نزدیک به ولایت چناق قلعه نجات دادند.

**در همین حال، گارد ساحلی ترکیه ۴۳ مهاجر غیرقانونی را که در دو قایق بادی سوار بودند، در سواحل ناحیه صفری حصار ولایت ازمیر نجات دادند.**

**مهاجران نجات داده شده به اداره مهاجرت محل منتقل شدند.**

**مرتبط :نیروهای گارد ساحلی یونان و ترکیه ده‌ها مهاجر را از خطر مرگ نجات دادند**

**مقامات ترکیه می‌گویند که نیروهای یونانی همچنان به اخراج اجباری مهاجران به داخل آب های ترکیه ادامه می‌دهند. در همین حال، گروه های حقوق بشر و رسانه ها مکرراً در مورد اخراج اجباری مهاجران توسط مقامات یونان گزارش داده‌اند .اما مقامات یونان این ادعا ها را رد می‌کنند.**

**ترکیه یک گذرگاه کلیدی برای عبور مهاجران غیرقانونی است که می‌خواهند برای شروع زندگی بهتر به اروپا بروند. این مهاجران اکثرا کسانی هستند که از کشور مبدا شان به دلیل جنگ و نا امنی ها فرار می‌کنند.**

## مېرڅ: آلمان باید د رد شوو پناه غوښتونکو اخراج چټک کړي

کدوال نیوز



**د آلمان په پارلمان کي د حزب اختلاف د لوی ګوند مسیحي دموکرات مشر فریدریش مېرڅ له حکومت د رد شوو مهاجرو چټک اخراج غوښتی دی.**

په آلمان کي د مسلکي کارګرو د تشي او له بهر څخه د مسلکيانو د راجلبولو پر موضوع تاوده بحثونه ادامه لري. د مسيحي دموکرات ګوند رئيس فريدريش مېرڅ په دغه بحث کي پر دې ټينګار کړی چي د رد شوو پناه غوښتونکو په اخراج کي بايد چټکتيا رامنځته شي. د هغه په وينا دمګړی په آلمان کي ۳۰۰ زره داسي بهرنيان شته چي د چارواکو له خوا له آلمان څخه په وتلو مکلف کړل شوي دي. نوموړي دا څرګندوني د «راينيشه پوست» ورځپاني د پنجشنبې په ورځ (د ۲۰۲۲ کال د دسمبر لومړی نېټه) کړي دي .

د مېرڅ په وينا د آلمان ائتلافي حکومت د رايه ورکوونکو سره ژمنه کړېوه چي د اخراج د پروسو د چټک کولو لپاره به لوی قدمونه واخلي. د هغه په وينا حکومت تر اوسه د خپلي دغي ژمني د پوره کولو په ترڅ کي پاته راغلی دی. خو د رد شوو مهاجرو د اخراج په پروسو کي يو لوی خنډ د اسنادو نشته والی وي. د دې تر څنګ زيات وختونه د دغو مهاجرو اصلي هيوادونه په اړينه توګه همکاري ته نه وي حاضر. د دې تر څنګ په آلمان کي و يو شمېر هيوادونو ته پر اخراج ممانعت دی. د مثال په توګه سوريې او افغانستان ته انسانان نشي اخراج کېدلای.

په ۲۰۲۱ کال په آلمان کي په ټوليزه توګه ۱۶۵ زره پناه غوښتونکي ثبت او تقريبا ۱۲ زره اخراج شول.

د کرونا پاندمي په لومړي کال يعني په ۲۰۲۰ کال کي په ټوليزه توګه ۱۰۸۰۰ مهاجر له آلمان څخه اخراج کړل شول. په ۲۰۱۹ کال ۲۲ زره او په ۲۰۱۸ کال ۲۳۵۰۰ مهاجر اخراج کړل شول.


د مېرڅ په وينا د رد شوو پناه غوښتونکو د اخراج په ترڅ کي «بدلون ته اړتيا شته.» د هغه په وينا د آلمان په ولس کي د کار په بازار کي د تشو ډکولو لپاره د مهاجرت لېوالتيا صرف په هغه صورت کي برقراره ساتل کيدلای شي چي په عيني وخت کي هغه کسان اخراج کړل شي چي په آلمان کي د پاته کېدو لرليد نه لري .

مېرڅ په داسي حال کي دا څرګندوني کړي دي چي د آلمان حکومت د مسلکي کارګرو د راجلبولو لپاره د نوي قانون يوه مسوده تصويب کړېده. د دې تر څنګ حکومت غواړي چي د آلمان د تابعيت په لاس راوړلو کي اسانتياوي رامنځته کړي.

## نجات ۷۴۳ مهاجر غیرقانونی توسط فرماندهی گارد ساحلی

رادیوی صدای ترکیه

**فرماندهی گارد ساحلی از نجات ۷۴۳ مهاجر غیرقانونی در یک هفته خبر داد**



**در بیانیه فرماندهی گارد ساحلی آمده است: در مجموع ۷۴۳ مهاجر غیرقانونی در ۳۰ حادثه که بین ۲۵ نوامبر تا ۱ دسامبر ۲۰۲۲، در فعالیت‌های ۲۴ ساعته انجام شده توسط فرماندهی گارد ساحلی برای مبارزه با مهاجرت غیرقانونی،نجات داده شدند.**

**گفتنی است عملیات نیروهای امنیتی ترکیه برای مقابله با ورود و خروج غیرقانونی مهاجران در سراسر کشور همچنان ادامه دارد.**